السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# له څه شي نه مې چې ما منع کړي یاست؛ ځان ترې وساتئ، او په څه شي مې چې درته امر کړی، نو تر خپلې وسې یې عملي کړئ

له ابو هريرة؛ عبد الرحمن بن صخر رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل چې فرمايل يې: "له څه شي نه مې چې ما منع کړي یاست؛ ځان ترې وساتئ، او په څه شي مې چې درته امر کړی، نو تر خپلې وسې یې عملي کړئ، بېشکه چې ستاسو څخه مخکني خلک (په دین کې) د ډېرو پوښتنو او د پیغمبرانو په اړه د خپلمنځي اختلافاتو له امله هلاک شوي دي".
[صحيح دی] [البخاري او مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته څرګنده کړې ده چې کله هغه له کوم شي نه منع وکړي، نو پر موږ لازم دي چې له استثنا پرته ترې ځان وساتو، او کله چې هغه موږ ته د کوم شي امر وکړي، نو باید تر خپلې وسې یې ترسره کړو. بیا یې موږ ته خبرداری راکړ او موږ یې وویرولو چې د تېرو امتونو په څېر نه شو، هغوی چې له خپلو پیغمبرانو ډېرې پوښتنې کولې او ورسره یې د هغوی مخالفت کاوه، نو الله جل جلاله په ډول ډول عذابونو او تباه سره مجازات کړل، نو په کار ده چې موږ د هغوی په څېر نه شو، تر څو داسې هلاک نه شو لکه هغوی چې هلاک شوي دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66517

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee